ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

# د بازونو ښکار او خوشحال خان خټک

1. **Dr. Mazhar Ahmad**[1]
2. **Sardar Hussain**[2]
3. **Inayat Ur rahman**[3]

**Abstract:**
*Khushal Khan Khattak was born in 1022 Hijri 1613 AD in Akora Khattak. His father's name was Shahbaz Khan.. Khushal Khan Khattak was a great nationalistic and patriotic poet of Pashto language, writer, leader, philosopher, politician, psychologist, sage and warrior as well as a hunter. In the book "Baznama" Khushhal Khan Khattak has written in detail about the different types of eagles and the treatment of their diseases. This article examines Khushhal Khan's thoughts on eagles.*

انسان چې حېوان ناطق ورته وئيلے شي. د خپل رسا فکر په برکت د زمکې په مخ تر ټولو ساه لرونکو مخلوقاتو نه غوره دے. اؤ" دا ښۀ دے" او "دا ښه نۀ دے" په بنياد د غار نه تر ښار پورې رااورسېدو. دَ سپوږمۍ په مخ ئي قدمونه کېښول او ډېر هغه کارونه چې چرې ناشوني وو. هغه ئې ممکن کړۀ او د ترقۍ دغه مزل ئي لا مخ به بره ګړندے دے. ولې ډېر سوالونه لا اوس هم حل طلب دي. د مثال په توګه د اولني انسان تعلق د کومې خاورې سره وه؟ ژبه ئې کله زده کړې؟ اولنۍ ژبه کومه وه؟ دا او داسې نور يو شمېر سوالونه دي چې پوهان پرې يوه خله نۀ دي.

خو ولې په دې خبره کښې هيڅ شک نشته چې لکه څنګه چې الله پاک ټول انسانان په رنګ، اواز او قدوقامت کښې د يو بل نه جدا جدا پېدا کړي دي. دغه شان د ټولو انسانانو په خويونو خصلتونو شوقونو او په خوښه ناخوښه کښې هم ښکاره فرق دے. که د چا مصوري خوښه ده نو چا په سنګ تراشۍ ايمان راوړے دے. څوک موسيقي د روح غذاګاني او څوک په ګډا مئين دي. خو ولې ددې خبرې نه انکار نۀ شي کيدې چې چا هم د خپل فن، هنر او شوق سره انصاف کړے دے هغه د شهرت بام ته رسيدلے دے.

---

[1] Assistant Professor, Department of Pashto, University of Malakand
[2] PhD Research scholar, Department of Pashto, University of Malakand
[3] PhD Research scholar, Department of Pashto, University of Malakand

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

په داسې کسانو کښې يو د پښتو ادب د اسمان ځلنده ستورے د توري او قلم خاوند په رزم او بزم ميئن، ننګيالے، جنګ يالے او فرهنګ يالے خوشحال خان خټک هم دے ۔ دَ خوشحال خان خټک د ژوند پحقله پروفيسر عبدالروف نوشهروي پخپل کتاب "پشتو ادب ايک تعارف" کښې ليکي چې:-

"خوشحال خان خٹک آج سے پونے چار سو سال قبل 1022 ھجرے مطابق 1613عيسوي ميں اکوڑہ خٹک کے ايک نامي گرامي سردار شہباز خان کے ہاں پيدا ہوئے۔ شہباز خان اپنے وقت ميں مغلوں کي طرف سے اس علاقے کا سردار تھا۔ اٹک سے ليکر پشاور کي سرحد تک شاہراہ کي حفاظت بھي اسي ہي کي زمہ تھي۔ اس کي وفات کے بعد قوم کي يہ سرداري خوشحال خان خٹک جو اپنے بھائيوں ، جميل بيگ، شمشير خان او مير باز خان ميں بڑے تھے، کے حصے ميں آئي"۔[1]

په دې خبره کښې هيڅ مبالغه نشته چې د خوشحال خان خټک غوندې د اعلئ پائې شاعر، نثر نګار، صوفي، فلسفي، حکيم او تکړه جرنېل لاپښتنې مور نۀ دے زېږولے او د خوشحال خان خټک دغه دعوئ چې :

نـــۀ بـــۀ ځمـــا غونـــدې بـــل ننګيـــالے راشـــي
نـــۀ بـــۀ ځمـــا غونـــدې بـــل جنګيـــالے راشـــي
ختـــک لا پربـــردہ پـــه درســـت افغـــان کښـــې
عجـــب کـــه هســـې فرهنګيـــالے راشـــي[2]

يو اځې شاعرانه تعلي نه وه بلکه تر اوسه پورې داسې پښتون پيدا نۀ شو چې په دغه ميدانونو کښې د خوشحال سره سيالي اوکړي ۔ پروفيسر محمد نواز طائر صبب په "روهي ادب" کښې د "صاحب بصيرت خوشحال خان خټک" د عنوان لاندې ليکي:

"خوشحال خان خٹک کو ايک پشتون ملي بزرگ مفکر اور صاحب سيف و قلم کي حيثيت سے تسليم کيا گيا ہے اس لئے انہيں پشتو شعروادب کا "باواادب" کہا جاتا ہے۔ در حقيقت اگر ديکھا جائے تو سر زمين افاغنہ نے اگر کسي نابغہ عصر کو جنم ديا ہے تو وہ خوشحال خان خٹک ہي ذات ہے"۔[3]

د خوشحال خان خټک د شخصیت او فکر وفن ګڼ اړخونه دي. داسې یوه موضوع به نۀ وي چې خان بابا به پرې قلم نۀ وي پورته کړے. رزمیه بزمیه، مجازي عشق، حقیقي عشق، صوفیانه، اخلاقي، سیاسي، تاریخ او حکمت غرض په هره موضوع خوشحال خان خټک بابا ښه په خلاص مټ لیکل کړي او د کمال خبره دا ده چې د مقدار سره سره ئې د معیار هم پوره پوره خیال ساتلے دے.

چونکې زمونږ د مضمون موضوع "د بازونو ښکار او خوشحال خان خټک" دے.

نو خپلے اصل موضوع له راځو. په دې حقله محترم همیش خلیل صیب د "بازنامه" په "مقدمه" کښې لیکي چې:

"خوشحال خان خټک د یو پیدائشي شاعر سپائي راهنما ، او نور ډیر
څه نه علاوه یو پیدائشي ښکاري هم دے."[4]

دَخوشحال خان خټک بابا د ښکار سره او بیا په تېره تېره د بازونو د ښکار سره د لېونتوب ترحده شوق ؤ. او ددې خبرې ثبوت هغوئ په خپل دیوان کښې راوړے دے.

دَ ښکار سره د خوشحال بابا د شوق اندازه د باز نامې د سر د شعرونو نه هم په ښه شان سره کېږي. د باز نامې شروع څۀ داسې کوي.

خدایــــه تـــه پـــه زړه کښـــې اچـــوې دا مینـــې
چـــې پـــۀ ښـــکار دې مبـــتلا کـــړم تـــه مـــې وینـــې
چـــې ښـــې کـــېڼ مـــې پېژنـــدلې دي دا مینـــه
تـــا زمـــا پـــه زړه کښـــې ځـــائې کړلـــه قرینـــه
پـــه طفلـــۍ مـــې د چمنـــو د چتـــو ښـــکار وه
ځلمیتـــوب مـــې د هوســـیو ســـر یکـــار وه
وربېســـې مـــې لـــه مرغونـــو ســـر یکـــار شـــو
جـــان وهـــوش مـــې همګـــي د بـــاز د ښـــکار شـــو [5]

او خوشحال بابا وائي چې د ښکار شوق ماته د پلار نیکه نه په میراث کښې پاتې شوے دے. او زما ځامن او نمسي هم ټول په ښکار مئین دي. په" باز نامه" کښې لیکي چې:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

زه چې لوئے هلک مې سل ځوئے او نمسي دي
همګــي د ښــکار د مینــې هوســي دي
څوک ښکارونه کا په غشي تیر انداز دي
څوک د ما غوندې عاشق د ښکار د باز دي
څوک په ښکار د تازي سپي هوس لرینه
هر یو خوښ په هغه ښکار وي چې ئې وینه
پلار نیکه مې هم د ښکار هوس وه کړے
دا هنر دے په میراث کښې مونږ راوړے[6]

اګر چې خوشحال با با په علم هم ډېر مئېن وه او په علم کښې ورته د زړۀ سکون ښکارېدو ۔ لکه په خپل یو شعر کښې وائي چې:

"یا په علم کښې لـزت دے
یا په عشق کښې د مولا[7]

خو ولې د بازونو د ښکار شوق ئي د علم د حصول په لار کښې د ټولو نه غټ خنډ ؤ او وائي چې که د بازونو د ښکار شوق مې نۀ وے نو ما به د جهان ټول علمونه حاصل کړي وو ۔

"د جهان تحصیل به کول واړه زما وے
که اخته نۀ وے د ښکار په اشتغال

یو ساعت چې به په درس شل مې په ښکار وه
کله ښکار پرېښوم په کسب د کمال[8]

او هم دغه د بازونو د ښکار شوق ؤ چې رېره ئې سپینه شوه او غاښ ئې اووتل خو د بازونو د ښکار نه توبه ګار نه شو ۔

"غاښ وتلي رېره سپینه لا تر اوسه
باز په لاس ګرځم په غرونو په جبال"[9]

او بیا وائي چې زه تر څو پورې ژوندے یم نو د بازونو د ښکار نه بۀ وانۀ وړم۔

"قمـــار بـــاز بـــه لـــه قمـــاره صـــبر وه کـــه
رنـــه بـــه هـــم شـــي لـــه شـــرابو توبـــه ګـــار
زه خوشـــحال بـــه د بـــازونو ښـــکار پـــرې نـــۀ ږدم
څـــو ژونـــدے یـــم دا مـــې کـــار دا مـــې روزګـــار[10]

اوس دا خو ښکاره خبره ده چې خوشحال خان بابا د ژوند لویه حصه د بازونو د ښکار نه ځار کړې وه۔هر قسم بازونه ئې نیولي، ساتلي او په ښکار اموخته کړي وو۔ کته باز، جره باز، تیغون، چهر، خشین، بوزم، قیدشاهین او داسې نور ډېر بازونه ئې پېژندل او دا هم ورته معلومه وه چې کوم قسم بازونه غوره وي ځکه خو خپل څوي ته وائي چې:

"پـــه بـــازونو کښـــې کتـــه بـــاز نســـیه غـــوره
رنـــګ ترکیـــب وتـــه ئـــې مـــه ګـــوره پیســـره
وژد مـــــار ســـــر غـــــاړه وژده وژده لکـــــې
بـــاز هـــم دا دے ســـینه ور غتـــې پنـــډۍ[11]

تیغون باز کوم چې به د سوات او چترال په علاقو کښې موندے شول د هغې باره کښې داسې وائي:

"تیغـــون بـــاز ځکـــه پـــه قـــدر قیمـــت دے
چـــې کامیـــاب شـــونه چـــې ښـــه پـــه شـــجاعت دے
تـــر تیغـــون نـــه قیـــر خشـــین بهـــادران دي
پـــه مشـــکار بانـــدې دا دوانـــه لکـــه ځـــان دي ۔[12]

خوشحال خان بابا چونکه پخپله د بازونو ښکاري وو نو ځکه هغه ته دا هم په ښه شان سره معلومه وه چې بازونه په کوم موسم او په کومو لارو راځي او د کومو علاقو نه راځي۔

پـــه میـــزان کښـــې راخـــواره شـــي لـــه شـــماله
د ظلمـــات پـــه نـــواحي کښـــې لـــري جالـــه

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

د هر غره چې ونې ډېرې هوا ښه وي
هغه غرونه ئې مکان په ورځ په شپه وي
په میزان کښې په عقرب ډېر نیول شي
په لینده کښې خال هم سره نیول شي
ډېر بازونه په خطا دي یا په روم دي
په شېروان په ترکستان کښې هم هجوم دي[13]

خوشحال خان با با وائي چې د بازونو نیول ډېر ګران کار دے۔ د هر چا د وس خبره نۀ ده۔ ډېر پوهه، احتیاط او احتیاطي تدابیر غواړي۔ خوشحال خان بابا هغه دا مدار ته چې په جال کښې ئې باز او نخلي داسي وائي:

"نوے باز چې په جال کېباسے دا مداره
باندې هیڅ مکړه نعره د خدائے د پاره
خپل وربوز په څادر اونغاړه رووړشه
ښه ئې اونغاړه په جال کښې پرې خبر شه
بندیئ واچوه په پښو کښې سترګې دوانه
ښه ئې اوګنډه په مزي وئې نغاړه[14]

او بیا لکه څنګه چې د باز نیول او قابوکول اسان نۀ دي دغه شان باز په ښکار اموخته کول هم ډېر کړاؤ او زړۀ چاؤدون غواړي ۔ خوشحال خان با با وائي چې:

"که ته غواړے چې دې باز مرغابۍ ګیر شي
بیړه مکړه چې دا کار به په تدبیر شي
په رنګ رنګ چې ښې ښې اووهي باولۍ
اول ورکړه پیش پرانه مرغابۍ
چې یو ځلې په ښکار کېوځي ښه بازونه
په خپل زړه کښې خود د ښکار لري رازونه*[15]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

او بیا چې یوځلې باز په ښکار اموخته شي بیا پرې د امدار د قسم قسم مرغابو، هیلو، زرکو، تمځرو، مرزو او تاروګانو ښکار کوي:

د بـــاز ښـــکار خـــو مرغـــابۍ ده کـــه ئـــې ګـــورې
بیـــا ســـونا ښائســـته غـــاړه ســـترګې تـــورې
زرکـــه هـــم پـــه الوتلـــو تقصـــیر نـــه کـــه
بـــاز چـــې ځـــان ورپســـې جوړکـــه نفیرنـــه کـــه
د ســـرخاب نیـــول جـــره لـــره هنـــر دے
تـــر هیلـــۍ لا و بـــاز وتـــه بهتـــر دے[16]

خوشحال خان با با یو اځي د بازونو په نیولو او په بازونو د ښکار کولو ماهر نه ؤ. د بازونو د مرضونو نه هم ښه خبر ؤ. او د هغې په علاج کښې هم ښه ماهر ؤ. خوشحال خان بابا چې د بازونو کوم مرضونه یاد کړي دي په هغې کښې د باز د بادو مرض، د توخي مرض، د سپېږمو دبندېز مرض، د درچمجو مرض د خوشکۍ مرض، د قولنج مرض، د باز د پښو د رسولۍ مرض، د باز په سترګو پردې راتلل او د اسې نور مرضونه او د هغې کورني علاجونه ذکر کړي دي. مثلا د باز د قولج یعني د کولمو د درد باره کښې وائي چې:

"کـــه د بـــاز د قـــولنج درد چـــرې پیـــدا شـــي
پـــه طلـــب پـــه ښـــکار پـــه هـــر څـــه سســـت نماشـــي
کـــه پـــه قـــدر د بـــادام ورکـــړے ګـــاځره
د قـــولنج د بـــاد هـــیڅ نشـــته نـــوره وېـــره"[17]

دَ خوشحال خان بابا د بازونو سره دومره محبت دے چې هغه په خپله شاعرۍ کښې ځائې په ځائې باز بلند پروازي، غېرت او په خپلو منګلو اعتماد د ځان د پاره او د هر پښتون وګړي د پاره د علامت، کنائې ، استعارې او د تشبیه په توګه استعمالوي. د مثال په طور د خان با با دا څو شعورنه:

پښـــتنو ځلمیـــو بیـــا لاســـونه ســـرۀ کـــړه
لکـــه بـــاز منګـــولې ســـرې کـــه پـــه خپـــل ښـــکار[18]
لکـــه بـــاز پـــه لـــوے لـــوے ښـــکار زمـــا نظـــر دے

نهٔ چې ګرځي ګونګټ نيسي باد خورک يم[19]
ښائسته د بڼ طاؤس ورلره بويه
دا واړه ښکارونه نه کا باز زما[20]
متسجاب مهمند که چرګه د مغل ده
زه خوشحال ختک خو باز يم ځائے مي غر[21]
په څه غره په غره د باز غوندې پرواز که
بيا به وائي د خوشحال ختک پر نشته
نه يو باز د سر درونه ډېرې چرګې
د ځنګلو مزرے يو ګيدړ هزار[22]

دَ خوشحال با با د دېوان او د بازنامه د مطالعې نه پس دا خبره ډېره په ښه شان سره جوتيږي چې نه يوائې خوشحال خان بابا په ښکار مئېن ؤ بلکې دغه شغل هغه ته دَ خپل نيکهٔ نه په ميراث کښې پاتې شوې ؤ۔

"که د توري که د ښکار دا دوه هنره
راته پاتې له آبا دي له پدره
پلار نيکه چې هم د ښکار هوس وه کړے
دا هنر دے په ميراث مونږه راوړے[23]

د خوشحال خان ختک د ښکار د ذوق دا سلسله هم په هغه ختمه نهٔ شوه۔ بلکې د هغه ځامن او نمسي هم د ښکارد شوق په محبت کښې ګرفتار شول[24] او حقه خبره دا ده چې که د خوشحال با با د شاعرۍ نه د "باز" مضمون کوم چې هغه د علامت تشبيه او استعارې په توګه راوړے دے لرې کړے شي نو دا به داسې وي بلکه بې مالګې طعام۔

## حوالې

1 نوشهروی، پروفیسر عبدالروف "پشتو ادب ایک تعارف" اکادمی سائنس ردو پشتو یونیورستی ټاون پشاور، ص-۱۴۴

2 طاهر، پروفیسر نواز" روهی ادب" پشتو اکیډیمی پشاور یونیورستی، کال ۱۹۸۷ ص-۷۶ -۲۷۵

3 خوشحال خان خټک ـ منتخابات خوشحال، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، کال ۱۹۸۵، ص۲۲۳

4 خوشحال خان خټک، باز نامه، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، کال ۱۹۸۵ ص- ۱۱

5 همدغه اثر، ص - ۴۳

6 همدغه اثر، ص- ۴۵

7 خوشحال خان خټک ـ منتخابات خوشحال، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، کال ۱۹۸۵، ص۹۲

8 همدغه اثر، ص ۲۲-۱۲۱

9 همدغه اثر، ص ۱۲۲

10 خوشحال خان خټک، باز نامه، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، کال ۱۹۸۵، ص ۱۱

11 خوشحال خان خټک، باز نامه، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، کال ۱۹۸۵، ص-۴۷

12 همدغه اثر، ص -۴۹

13 همدغه اثر، ص - ۵۳،۵۲،۵۱

14 همدغه اثر، ص -۴۹

15 همدغه اثر، ص -۶۵

16 همدغه اثر، ص -۶۷،۶۸

17 همدغه اثر، ص -۱۶۹

18 خوشحال خان خټک، متفرقات خوشحال، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، س۔ن ص۲۴

19 خوشحال خان خټک، انتخاب خوشحال، زیب ارټ پبلشرز محله جنگی پیښور، س۔ن ص۴۴

20 خوشحال خان، کلیات خوشحال، عظیم پبلشنگ هاؤس خیبر بازار پیښور، س۔ن، ص-۲۰

21 خوشحال خان خټک، منتخبات خوشحال، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی کال س۔ن ص۱۱۳

22 خوشحال خان خټک، منتخابات خوشحال، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، س۔ن ص۱۰۸

23 خوشحال خان خټک، باز نامه، پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، کال ۱۹۸۵ ص۴۵

24 همدغه اثر، ص- ۱۲